دومره عمل کوئ چې توان يې لرئ، قسم په الله چې؛ الله تعالى (په ثواب او اجر ورکولو) نه سترې کېږي تر څو چې تاسو په عمل کولو سترې نه شئ

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مېرمن؛ أم المؤمنين عائشې رضى الله عنها څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم زما سره و چې حولاء بِنْت تُوَيْتِ بْنِ حَبِيبِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى زمور په خوا کې تېره شوه ما وويل: چې دا حولاء بنت تويت ده، خلک وايي چې دا د شپې نه ويده کېږى (عبادت کوي) رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "د شپې نه ويده کېږي! دومره عمل کوئ چې توان يې لرئ، قسم په الله چې؛ الله تعالى (په ثواب او اجر ورکولو) نه سترې کېږي تر څو چې تاسو په عمل کولو سترې نه شئ".

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

کله چې حولاء بنت تويت رضى الله عنها د ام المؤمنين عائشې رضى الله عنها سره وه، نو هغه مهال ترې لاړه، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې کور ته راننوت. نو عائشې ورته وويل: دا ښځه د شپې مهال خوب نه کوي، بلکې شپه په لمانځه سره سبا کوي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم يې دا عمل ښه ونه ګاڼه چې پرځان سختي کوي. د شپې خوب نه کوي! په هغو نېکو عملونو دوامدار بوخت شئ چې توان يې لرئ، ځکه قسم په الله چې، الله هېڅکله خپلو نېکو، پيروي کوونکو بندګانو ته په ثواب او بدلې ورکولو نه سترې کېږي، تر څو چې هغوى سترې شي او عمل کول پرېږدي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10411